# د ګټې اخیستنې د وصیت پرتلیزه څېړنه

څېړنیار عبدالقهار عزیزي


## الملخص

هذا المقال بعنوان: (التحقيق المقايسوي للوصية الانتفاع) يبحث فيه عن تعريف الوصية و اقسامها و الاستفادة عن العين، و اضافة على القانون المدني الأفغاني مستفدأ من قانون وصية المصر، وقانون الأحوال الشخصية الكويت، والقانون المدني الايراني و عدد من المواقع الكترونية، وفيه مع تعريف الوصية البحث عن اقسامها، واقسام تقديم الوصية، و اركانها وتعريف الوصية الانتفاع، شروطها و امتناع الوصية المستفاده من الورثة، ومدة الوصية الانتفاع و مدة اسقاطها، مقايسة المواد القانونية و ابداء نقض القانون المدني الأفغاني في محله.

## لنډیز

په دې مقاله کې د وصیت تعریف، ډولونه او له عین څخه ګټه اخیستل څېړل شوي دي. د افغانستان پر مدني قانون سربېره د مصر د وصیت قانون، د کوېټ د شخصي احوالو قانون، ایراني مدني قانون او یو شمېر وېبپاڼو څخه ګټه اخیستل شوې ده. په دې مقاله کې د وصیت د تعریف ترڅنګ، د وصیت ډولونه، د وصیت د ترسره کېدو ډولونه، د وصیت ارکان، د ګټه اخیستلو د وصیت پېژندنه، د ګټه اخیستلو د وصیت شرایط، د وارثانو له لوري د ګټه اخیستلو ممانعت، د ګټه اخیستلو د وصیت موده او د ګټه اخیستلو د وصیت سقوط تر بحث لاندې نیول شوي دي. د قوانینو مواد پرتله او ارزول شوي دي او د افغانستان د مدني قانون نیمګړتیاوې هم ځای پر ځای په ګوته شوي دي.


## سریزه

د ګټې اخیستنې وصیت د وصیت له ډولونو څخه یو ډول دی. ددغه ډول وصیت پر بنسټ که څه هم وصیت کېدونکي ته ملکیت نه انتقالېږي، خو کولی شي تر یوې مودې پورې له عین یا څیز څخه ګټه واخلي. دا ډول وصیت د افغانستان مدني قانون، د هغه له ټولو احوالو سره په تفصیل سره څېړلی دی. د افغانستان پر مدني قانون سربېره، مصر هېواد وصیت لهپاره ځانګړی قانون تدوین کړی دی. ددې ترڅنګ په دې برخه کې د ځینو نورو هېوادونو قوانین هم احکام لري او رڼا یې پرې اچولې ده. په ټولیز ډول، دا ډول وصیت روا او جایز وصیت دی او په اړه یې کوم ممانعت نه لیدل کېږي.

**د څېړنې هدف:** د څېړنې موخه دا ده چې د ګټې اخیستنې وصیت د ځینو مهمو نقاطو په اړه وضاحت وړاندې شي او ددې وصیت په اړه د افغانستان مدني قانون ګونګ ټکي روښانه شي.

**د څېړنې مبرمیت:** وصیت د ملکیت د انتقال یوه لاره ده. دا لاره کېدای شي چې په لنډمهالي توگه هم ترسره شي، دا چې د افغانستان او د ځینو نورو هېوادونو دې موضوع ته اشاره کړې، اړتیا لیدل کېږي چې په اړه یې ځینې پوښتنې ځواب او گونگ مسایل روښانه شي.

**د څېړنې میتود:** دا څېړنه په تحلیلي-توصیفي ډول ترسره شوې ده او په کې د افغانستان مدني قانون پر موادو سربېره، د کویټ، مصر او ایران د قوانینو ځینې مواد هم تحلیل او ارزول شوي دي.

**د څېړنې پوښتنه:** د افغانستان په تقنیني سندونو کې د گټېاخیستنې وصیت په کوم ډول بیان شوی دی؟

**د څېړنې فرضیه:** داسې فکر کېږي چې د افغانستان قوانین، په ځانگړې ډول مدني قانون یو له جامع قوانینو څخه دی او په سیمه کې یې ساری نه لیدل کېږي. اټکل کېږي چې پر نورو احکامو سربېره به د گټېاخیستنې وصیت هم په ښه ډول په کې روښانه شوی وي او ټول ابعاد به یې په ځان کې رانغاړلي وي.

په دې مقاله کې تر هر څه وړاندې د وصیت په پېژندنه رڼا اچول شوې ده. ورپسې په عمومي ډول د وصیت ارکان، حکم، انواع، د وصیت کولو ډولونه او شرایط روښانه شوي دي. له دې وروسته بیا د گټېاخیستنې وصیت تشریح شوی او ددغه ډول وصیت بېلابېل اړخونه څېړل شوي دي. د دغه ډول وصیت پر پېژندنې سربېره، د وارث لهلوري د منع‌کولو حالات، د گټېاخیستنې د وصیت موده او سقوط هم تر بحث لاندې نیول شوی دی او بالاخره مقاله په پایله، وړاندیزونو او مأخذونو پای مومي.

**د وصیت تعریف:** د افغانستان مدني قانون وصیت یو ډول تصرف گڼي او په خپله ۲۱۰۳ماده کې یې په داسې ډول تعریفوي: «وصیت په ترکه کښې د داسې تصرف څخه عبارت دی چې اثر یې د وصیت کوونکي د مړینې وروسته، زمانې ته مضاف وي» (۱: ۲۱۰۳مه ماده)

د پورته تعریف پر بنسټ، د وصیت لهلارې یو کس کولی شي چې په ترکه کې تصرف وکړي. یعنې هغه کس چې مړ شوی وي، مخکې له دې چې ترکه یې د وارثانو ترمنځ وویشل شي، وصیت‌کړی شوی شخص کولی شي چې په ترکه کې د وصیت مطابق تصرف وکړي. د همدغه تعریف په وروستۍ برخه کې دا روښانه شوې ده چې وصیت، د وصیت‌کوونکي له مرگ څخه وړاندې اثر نه لري، بلکې له مرگ وروسته اثر رامنځ‌ته کوي.

د کابل پوهنتون د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، وصیت په دې ډول تعریف کړی دی: «وصیت په ترکه کې هغه تصرف دی چې د وصیت کوونکي تر مړینې وروسته اغیزه ولري» (۶: ۲۹۴مخ)

د منځپانگې له مخې دغه تعریف د مدني قانون له تعریف سره کوم توپیر نه لري، یوازې کلمات یې سره متفاوت دي.

د کویټ د شخصي احوالو قانون، وصیت دا ډول را پېژني: الوصیة تصرف في الترکة، مضاف الی ما بعد الموت. (۷: ۲۱۳مه ماده)

ژباړه: وصیت په ترکه کې داسې تصرف دی چې له مرګ وروسته حالت ته مضاف وي.

پورته تعریف د افغانستان مدني قانون له تعریف سره هیڅ کوم توپیر نه لري، بلکې یو ډول او هماغه تعریف دی چې د افغانستان مدني قانون یې وصیت ته لري.

یا په عمومي ډول وصیت په دې معنی دی چې انسان ووایي له مرګ وروسته ورته یو کار ترسره شي یا ووایي چې له مرګ وروسته یې د مال یوه برخه د یوه کس وي یا خپلو بچیانو ته قیم (سرپرست) مشخص کړي.(۵: انټرنیټ)

د پورته تعریف له مخې وصیت په دوه ډوله دی: یو یې تملیکي چې پر بنسټ یې وصیت‌کوونکی د خپلې شتمنۍ یوه برخه بل چا ته په ملکیت ورکوي، بل دا چې وصیت‌کوونکی خپلې یو شمېر چارې بل چاته سپاري، البته دواړه حالتونه له مرګ وروسته دي. دوهم ډول یې د وصایت په نوم هم یادېږي.

یا وصیت په لغت کې د بل چا سره د کوم کار په کولو کې ژمنې کولو یا ځای‌ناستي جوړولو او تأکید کولو ته وایي او په اصطلاح کې یو شخص د ژوند پر مهال بل شخص ته د خپل مرګ نه پس د څه کار د ادا کولو ذمه او مسؤلیت سپارلو ته وصیت وایي (۳: انټرنیټ)

پورته تعریف هماغه د وصایت تعریف دی چې د وصیت له ډولونو څخه ګڼل کېږي او ایراني مدني قانون دغه وصیت د عهدي وصیت په نوم یاد کړی دی چې وروسته به ورباندې بحث وشي.

تعهدي وصیت یا وصایت داسې هم تعریف شوی دی: وصایت هغه دی چې یو څوك ژمنه وکړي د یو چا وصیتونه (سپارښتنې) لکه د پوروړو ادا کول، د ماشومانو پالل او د نورو ورته لګښتونو تامینول او خیال ساتنه چې تر مړینې وروسته یې باید ورکړي، وصایت بلل کېږي او هغه سړی چې خپله ژمنه یې ومنله واکمن وصي بلل کېږي. (۲: انټرنیټ)

## د وصیت ارکان

الف: موصي- وصیت‌کوونکی، څوک چې بل کس ته وصیت کوي.

ب: موصی‌له (وصیت‌کړی شوی) - وصیت کړی شوی، هغه شخص دی چې موصي ورته وصیت کوي.

ج: موصی‌به- هغه څیز چې د وصیت پر بنسټ موصی‌له ته ورکول کېږي.

## د وصیت حکم

د حکم له‌مخې وصیت په څلور ډوله دی: واجب، مستحب، جایز او تحریمي مکروه.

۱- واجب وصیت: ټول هغه وصیتونه چې موضوع یې د هر ډول پور ادا کول وي د هغه وصیت کول واجب دي؛

۲- مستحب وصیت: له وارثانو څخه پرته نورو خپلوانو ته په یو نېک کار کولو باندې وصیت کول مستحب دي؛

۳- مباح وصیت: بډایه خپلوانو یا نورو ته په مشروع کار باندې وصیت کول مباح دي؛

۴- تحریمي مکروه: په حرام کار باندې وصیت کول منع دي مثلاً داسې که زه مړ شوم زما قبر به پوخ جوړوئ او همداسې په نورو ناروا چارو باندې وصیت کول حرام دي. (۳: انټرنیټ)

## د وصیت ډولونه

د افغانستان مدني قانون د وصیت ډولونه نه دي څېړلي او نه یې کوم ځانګړی وېش ورته ټاکلی دی. خو کولی شو چې وصیت په دوه ډوله ووېشو. وصیت او وصایت. د پورته تعریفونو له مخې دا وېش کېدای شي معتبر وګڼل شي. وصیت، د یو چا له مړینې وروسته په ترکه کې تصرف او وصایت بیا د یو کس تر مړینې وروسته د هغه د وصیت له مخې د ځینو چارو پرمخ وړلو ته وایي. دواړه ډولونه په خپل ذات کې وصیت دی، کوم ځانګړی توپیر نه لري؛ یوازې د تفکیک په خاطر یې نومونه سره جلا کړل شوي دي.

د ایران د مدني قانون له مخې: وصیت په دوه ډوله دی: تملیکي وصیت او عهدي وصیت (۴: ۸۲۵مه ماده.) ددغه وېش له مخې د وصیت پر بنسټ، بنایي ملکیت انتقال شي یا دا چې یو لړ چارې انتقال شي. په دې معنی چې د تملیکي وصیت پر بنسټ د یوه کس له مرګ وروسته د هغه یوه اندازه مال د بل کس ملکیت ګرځي، په داسې حال کې چې عهدي وصیت بیا د ځینو چارو د ترسره کولو مسؤلیت سپارل دي.

## د وصیت کولو ډول

وصیت په درې ډوله ترسره کېږي. وینا، لیک او اشاره.

**وینا:** د یوه شخص شفاهي خبرې دي. په حقوقو کې ډېر داسې عقدونه دي چې یوازې په وینا عقد کېږي او اثار رامنځته کېږي. ددغو عقدونو له ډلې څخه یو هم وصیت دی. د افغانستان مدني قانون دا ډول وصیت مجاز بللی او وایي: «وصیت د وینا یا لیک په وسیلې منعقد کیږي...» (۱: ۲۱۰۴مه ماده)

**لیک:** دغه راز امکان لري چې وصیت د لیک په واسطه هم منعقد شي. وصیت‌کوونکی د یوه لیک پر بنسټ، چې وصیت‌لیک بلل کېږي؛ وصیت‌کړی‌شوي ته د خپل مال یوه برخه، له خپل مرګ څخه وروسته په تصرف ورکوي. وصیت‌لیک د حقوقي اصطلاحاتو قاموس داسې راپېژني: «هغه پاڼه چې پکښې شخص تر خپلې مړینې مخکښې په خپلو مالونو او شتمنۍ کې د قانوني تصرفاتو ترتیب ثبتوي.» (۶: ۲۹۴مخ).

**اشاره:** د اشارې له مخې هم امکان لري چې وصیت رامنځ‌ته شي. دا په هغه حالت کې ترسره کېږي، کله چې وصیت‌کوونکی د لیک یا وینا توان ونه‌لري چې یو ډول استثنایي حالت دی. خو اشاره باید معلومه او د پوهېدو وړ وي.

د افغانستان مدني قانون په دې اړه وايي: «....که وصيت کوونکي د ليک او وينا توان نه لرلو نو د هغه په معلومو اشارو هم منعقد کېدای شي.» (۱: ۲۱۰۴مه ماده)

امامیانو، شوافعو او مالکیانو ویلي دي که د ناروغ ژبه ودرېده په اشارې سره چې تر څو پرې پوهیدای شي وصیت یې سم او پرځای دی او شعراني د (میزان) په کتاب کې له امام ابوحنیفه او امام احمد بن حنبل څخه روایت رانقل کړی دی چې په دې حال کې وصیت صحیح نه دی. او د (الفقه علی المذاهب الاربعه) کتاب د درېیم ټوك په باب الوصیة کې له احنافو او حنابله وو نقل شوي دي: که د وصیت کوونکي ژبه له کومې ناروغۍ سره مخامخ شي، چې خبرې پرې نه شي کولای، وصیت یې سم نه دی؛ خو که ډیر وخت پرې ووت لکه گونگی چې په اشاره یې وپوهوي، په دې صورت کې اشاره او لیکل لکه بیان داسې دي. (۲: انټرنیټ)

### د وصیت شرایط

د وصیت په شرایطو کې درې ډوله شرایط تر بحث لاندې نیول کېږي. لومړی: د وصي یا وصیت‌کوونکي اړوند شرایط، دوهم: د موصی‌له یا وصیت‌کړی‌شوي اړوند شرایط او دریم: د موصی‌به یا وصیت‌کېدونکي څیز اړوند شرایط.

### لومړی: د وصیت‌کوونکي اړوند شرایط

وصیت کوونکی باید د تبرع اهلیت ولري او د رشد عمر ته رسېدلی وي. دا چې د تبرع اهلیت څه ته وایي او د رشد عمر د څو کلنۍ عمر دی، په لاندې ډول روښانه کېږي.

**د تبرع اهلیت:** تبرع په لغت کې په خپله خوښه کار کولو ته ویل کېږي. د تبرع اهلیت هغه اهلیت دی چې یو شخص خپلواک وي او په خپله خوښه د یوه کار کولو وړتیا ولري. د حقوقي اصطلاحاتو قاموس بیا په اصطلاحي ډول تبرع دا ډول راپېژني: «مقابل لوري ته د عوض له تمې پرته، د یو شي اهداءکول او یا د یو عمل سرته رسول دي.» (۶: ۴۸مخ). د پورته تعریف له مخې، تبرع په دوه ډوله ده. لومړی د یوه شي اهداء یا ډالۍ کول او دوهم د یوه عمل ترسره کول. خو په دې شرط چې د یوه څیز په ډالۍ کولو یا د یوه کار ترسراوی د کوم عوض له تمې پرته وي او له مقابل لوري د عوض تمه و نه لري.

تبرعي اهلیت بیا داسې اهلیت دی چې شخص په قانوني لحاظ یو چا ته له تمې پرته یو څیز ډالۍ کړی شي یا ورته کوم کار ترسره کړی شي. د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، که څه هم تبرعي اهلیت ته کومه اشاره نه ده کړې، خو د تبرع اهل یې دا ډول راپېژندلی دی: «هغه شخص دی چې د تبرع د ظرفیت د لرلو برسېره د قانوني او شرعي اهلیت لرونکی هم وي.» (۶: ۱۰۵مخ) یعنې هغه شخص د تبرع اهل دی چې قانوني او شرعي اهلیت ولري. د قانوني اهلیت په

تړاو د حقوقي اصطلاحاتو قاموس بل ځای داسې وايي: «هغه حالت دی چې يو حقيقي يا حکمي شخص د حق کارولو لهپاره قانوني صلاحيت ولري.» (۶: ۴۷مخ)

په لنډ ډول، که چېرته کوم کس د تبرع اهل نه وي، نشي کولی چې د وصيت پربنسټ چا ته له خپل مرګ وروسته په ترکه کې د تصرف لهپاره وصيت وکړي.

**د رشد عمر:** د رشد عمر هغه حالت دی چې شخص په کې د عقد انعقادولو او د معاملو اجراء کولو او پر دې سربېره د تصرف کولو حقوق ترلاسه کوي. د افغانستان مدني قانون د رشد عمر پوره اتلس لمريز کلونه ټاکلی او وايي: «د رشد عمر پوره اتلس شمسي کلونه دی، که څوک دې عمر ته ورسيږي او عقلي قوه ولري د خپلو مدني حقوقو د اجراء کولو د پاره د پوره اهليت خاوند ګڼل کيږي» (۱: ۳۹مه ماده). په پورته ماده کې د اتلس کلنۍ عمر د مدني حقوقو د اجراء کولو لهپاره شرط ټاکل شوی دی او هغه کس چې دغه عمر ته ورسيږي، اهليتلرونکی ګڼل کېږي. وصيت هم يو له مدني حقوقو څخه دی او له اتلس کلونو کمعمره کس نه شيکولی چې بل چا ته له خپل مرګ وروسته، په ترکه کې د تصرف يا نورو اموراتو د ترسراوي وصيت وکړي.

## دوهم: د وصيتکړی شوي شخص اړوند شرايط

په دوهمه برخه کې هغه شرايط مطالعه کېږي چې د وصيتکړی شوي شخص پورې تړاو ولري. په دې برخه کې دوه شرايط اړين دي، لومړی دا چې شخص بايد معلوم او ټاکل شوی وي. د افغانستان مدني قانون په دې اړه وايي: «چاته چې وصيت کيږي بايد چې معلوم وي...» (۱: ۲۱۰۹مه ماده) يعنې که شخص معلوم او مشخص نه وي، امکان نه لري چې وصيت ورته وشي. هسې هوايي وصيت به وي. بنايي د معلوموالي او ټاکلوالي موخه ژوندی کس وي.

ځيني وخت امکان لري چې وصيت يوې ډلې ته وشي چې د ټولو نوم اخيستل ممکن نه وي. د بېلګې په توګه د يوه کليوال، د قوم ټول لوی واړه، د يوې مشخصې ساحې اوسېدونکي او يا د يوه ځانګړي کسب درلودونکي کسان. په دې صورت کې، لکه څرنګه چې هرکس مشخصاً د هغه په نوم مسمی نه شو، ولې بيا هم ټول هغه کسان چې د وصيتکوونکي د مړينې پرمهال يې د وصيت اهليت درلود، ټولو ته شامل دی. په دې اړه د افغانستان مدني قانون وايي: «که وصيت د يوه قوم د پاره په داسې الفاظو وشو چې ټولو ته شامل و او په نومونو يې ونه ټاکل، او د هغوی څخه ځيني داسې اشخاص وو چې د وصيت کوونکي د مړينې په وخت کښې يې د وصيت اهليت نه لرلو، نو ټول وصيت شوي شيان په هغو اشخاصو پورې تعلق نيسي چې د وصيت کوونکي د مړينې په وخت کښې يې د وصيت اهليت لرلو.» (۱: ۲۱۲۹مه ماده)

دوهم شرط دا دی چې شخص بايد د وصيت پرمهال موجود وي. د افغانستان مدني قانون په دې اړه وايي: «... او که ټاکل شوی وو نو بايد د وصيت په وخت کښې موجود وي.» (۱: ۲۱۰۹مه ماده) پورتنۍ ماده د وصيت پر مهال د شخص شتون حتمي ګڼي. نن ورځ نړۍ د ټکنالوجيکي بهير په لوړو پوړيو کې ده. مدني قانون په دې اړه چې که شخص

د ټکنالوجيکي وسايلو له لارې حاضر وي، کوم وضاحت نه دی ورکړی. اړتيا ده چې د مدني قانون په دې برخه کې د ټکنالوجيکي وسايلو په پراخېدو سره تعديلات راشي.

دريم شرط له وصيت کوونکي سره د وصيت‌کېدونکي شخص د هېواد نه توپير دی. که چېرته وصيت‌کوونکی د مسلمان هېواد او وصيت‌کېدونکی شخص د نامسلمان هېواد تبع وي، داسې حالت کې وصيت نه صحيح کېږي. د افغانستان مدني قانون وايي: «...مګر دا چې وصيت کوونکی د اسلامي هېواد تابع وي او وصيت کړه شوی نامسلمان او د غير اسلامي هېواد تابع وي او د هغه د هېواد قانون په داسې حالونو کې اجازه ورنه کړي...» (۱: ۲۱۱۲مه ماده) پردې سربېره په افغانستان کې بهرنی تبعه نه شي کولی چې د وصيت له‌لارې په عقارو باندې تصرف پيدا کړي.

## په وصيت‌کړی شوي څيز پورې اړوند شرايط

دريم ډول شرايط، د وصيت‌کړی شوي شي يا د عين اړوند دي. په دې برخه کې شپږ ډوله شرايط اړين دي.

لومړی- موصی‌به يا هغه څيز چې په اړه يې وصيت کېږي بايد په ميراث وړلو وړتيا ولري؛ يعنې داسې څيز وي چې په ترکه کې شامل وي. لکه مال، پيسې، ځمکه، کور او نور.

دوهم- موصی‌به بايد په عقد ورکول کېدلو وړتيا ولري؛ که چېرته داسې څيز و چې پلورل، اخيستل، کرايه، اجاره او ګروي په کې نه منعقده کېدله، نو په اړه يې وصيت سم نه دی.

دريم- موصی‌به بايد دوام لرونکی وي؛ موصی‌به بايد د وصيت‌کوونکي تر مرګ پورې تداوم ولري، نه دا چې له هغه څخه مخکې هلاک شي يا له مينځه ولاړ شي.

څلورم- موصی‌به بايد د وصيت‌کوونکي په ملکيت کې وي؛ د وصيت پرمهال بايد وصيت‌کړی شوی څيز د وصيت‌کوونکي په ملکيت کې وي. يعنې يو کس نه شي کولی چې د بل چا مال باندې وصيت وکړي، بايد مال يې په بشپړ ډول په خپل ملکيت کې وي.

پنځم- موصی‌به بايد مشروع مال وي؛ يو کس نه شي کولی چې غير مشروع مال، لکه خوګ يا شراب بل چا ته په وصيت پرېږدي.

شپږم- موصی‌به بايد د ټولې ترکې له دريمې برخې څخه زيات نه وي؛ وصيت‌کوونکی بايد د وارثانو درلودو پرمهال د ټولې ترکې له دريمې برخې څخه په ډېر مال کې وصيت و نه‌کړي. که يې وکړ، د دا ډول وصيت تنفيذ د وارثانو په اجازې پورې تړلی دی. د وارثانو د نه‌درلودو پرمهال کېدای شي چې وصيت په ټول مال کې هم وشي. که چېرته د وصيت موضوع نقدې پيسې وي، خو د محاسبې له مخې د ټول مال له دريمې برخې څخه ډېرېدې؛ بيا هم د وارثانو په اجازې پورې مقيدې دي. د يادونې وړ ده چې ثلث ټاکل د وصيت‌کوونکي د مړينې پر مهال د هغه په ملکيت کې شامل مال له مخې محاسبه کېږي. د افغانستان مدني قانون په دې تړاو چې د شتمنۍ اندازه او بيا يې ثلث ټاکل په کوم

مهال کې ترسره شي، څه نه دي ویلي. ایراني مدني قانون په دې اړه داسې وضاحت ورکړی: د موصې د شتمنۍ درېمه برخه، د وفات پرمهال ټاکل کېږي، نه د وصیت پر مهال د شتمنۍ د میزان په اعتبار. (۴: ۸۴۵مه ماده)

پردې سربېره، د موصیٰ‌به د موجودیت او نه موجودیت په اړه د افغانستان مدني قانون څه نه دي ویلي، خو د ایران مدني قانون وایي: امکان لري، کوم مال چې لا تراوسه موجود شوی نه وي، وصیت پرې وشي (۴: ۸۴۲مه ماده)

پورته د وصیت بیان وشو. د وصیت تعریف، شرایط او مهم موضوعات یې روښانه شول. وصیت د موصی‌له د تملک له مخې په دوه ډوله وېشل کېږي. لومړی هغه یې بشپړ تملک، چې وصیت‌کړی شوی په کې د هر ډول تصرف حق لري. بل هغه یې بشپړ نه دی، بلکې یوازې د ګټه‌اخیستو وصیت دی چې موصی‌له یوازې تر یوې ټاکلې مودې پورې له عین څخه ګټه اخلي او د ټاکلې نېټې له پوره‌کېدو وروسته یې د ګټه‌اخیستو حق له منځه ځي.

د تام وصیت توپیر له ناقص سره په دې کې دی چې تام وصیت د وصیت‌کوونکي له مرګ وروسته نافذیږي خو ناقص یا د ګټه‌اخیستو وصیت د وصیت‌کوونکي له مرګ وړاندې هم نافذېدای شي. دلته یوازې د ټاکلې مودې پوره کېدل مهم دي.

د مودې پوره کېدل دوه حالتونه لري، د وصیت‌کوونکي له مرګ وړاندې پوره کېدل او د وصیت‌کوونکي له مرګ څخه وروسته پوره کېدل. که چېرته د وصیت کوونکي له مرګ وړاندې د وصیت موده پوره شوه او وصیت‌کړی شوي شخص په پوره ډول په یاده موده کې له عین څخه ګټه واخیسته، نو وصیت داسې ګڼل کېږي، لکه هېڅ چې شوی نه وي. خو که چېرته د وصیت‌کوونکي له مرګ وروسته پوره کېده، بیا پاتې موده باید پوره او وروسته له هغه، عین د وصیت‌کړی شوي شخص له تسلط خارج کړل شي.

په دې تړاو د افغانستان مدني قانون وایي: «(۱) که په ګټې اخیستلو وصیت د یوه ټاکلي شخص د پاره د یوې معلومې مودې د پاره چې پیل او پای یې معلوم وي، شوی وي. وصیت کړه شوی په دې مودې کښې د ګټې اخیستلو مستحق کیږي. که د وصیت کوونکي د مړینې تر مخه ذکر شوې موده تېره شوه نو وصیت داسې فرض کیږي چې د سره نه وو شوي. که د وصیت کوونکي د مړینې ترمخه ځینې موده تېره شوې وه نو وصیت کړی شوی په پاتې مودې کښې د ګټې اخیستلو مستحق کیږي. (۲) که د مودې اندازه ټاکل شوې وه خو پیل یې معلوم نه وو نو د وصیت کوونکي د مړینې د نېټې څخه پیل کیږي.» (۱: ۲۱۵۱مه ماده)

## د وارث له لوري له ګټه‌اخیستلو د موصی‌له منع کول

وارث نه‌شي کولی چې موصی‌له د ګټه‌اخیستلو څخه راوګرځوي یا یې منع کړي. د منع کولو په صورت کې وارث ته مسؤلیت ورګرځي. که چېرته منع کوونکی یو وارث و، په دې صورت کې وارث دوه انتخابه لري. لومړی دا چې موصی‌له ته د ګټه‌اخیستلو د منع‌کولو د تاوان په توګه بدل ضمانت ورکړي، چې مدني قانون په دې تړاو وایي: «(۱)... نو ذکر شوي وارث ورته د ګټې اخستلو د بدل ضامن کیږي،...» (۱: ۲۱۵۲مه ماده). دوهم حالت دا دی چې د

نورو وارثانو د موافقې په صورت کې د وصیت‌کړی شوې مودې سره په مساوي اندازه تعویض ورکړي. په دې صورت کې مدني قانون وايي: «(۱)... مګر دا چې ټول وارثان په بل وخت کښې چې د وصیت شوې مودې مساوي وي د عین څخه د ګټې اخستلو په تعویض موافقه وکړي...»

که چېرته منع‌کوونکی وارث یو نه، بلکې ټولو وارثانو د وصیت‌کړی‌شوي کس د ګټه‌اخیستو د حق مانع شوي وو، په دې صورت کې د ګټه‌اخیستونکي له خوښې سره سم یا دا چې بل وخت له عین څخه ګټه اخلي یا په ورته وخت کې ورڅخه تضمین وغواړي.

که چېرته دا منع‌کول د وارث له‌خوا نه، بلکې خپله د وصیت‌کوونکي له‌خوا یا د ګټه اخیستو پر وړاندې بل کوم خنډ واقع شي، په دې صورت کې ګټه‌اخیستنه د خنډ په لرې کېدو سره صورت مومي.

په دې تړاو د مصر د وصیت قانون وايي: «إذا منع أحد الورثة الموصى له من الانتفاع بالعين كل المدة أو بعضها ضمن له بدل المنفعة ما لم يرض الورثة كلهم أن يعوضوه بالانتفاع مدة أخرى. وإذا كان المنع من جميع الورثة كان الموصى له بالخيار بين الانتفاع بالعين مدة أخرى وتضمينهم بدل المنفعة. وإذا كان المنع من الانتفاع من جهة الموصي أو لعذر حال بين الموصى له والانتفاع وجبت له مدة أخرى من وقت زوال المانع.» (۸: ۵۱مه ماده)

ژباړه: که چېرته یوه وارث، وصیت کړی شوی له عین څخه په ټوله یا یو څه موده کې له ګټه‌اخیستلو څخه منع کړي، نو نوموړی وارث د ګټه‌اخیستلو د مودې ضامن دی، خو دا چې ټول وارثان په بله موده کې د ګټه‌اخیستلو سره موافقه وکړي. که چېرته ټول وارثان د ګټه‌اخیستلو خنډ و، نو وصیت‌کړی‌شوی اختیار لري چې په بل وخت کې له عین څخه ګټه‌اخیستل غوره کړي یا دا چې د ګټې‌اخیستنې تضمین غوره کړي. که چېرته له ګټې‌اخیستنې منع‌کول د وصیت‌کوونکي له‌لوري یا د وصیت‌کړی‌شوي او ګټې‌اخیستنې ترمنځ د حایل واقع‌کېدو د عذر له‌امله وي، د مانع له لرې کېدو وروسته ورته ګټه‌اخیستنه حتمي ده.

دا ماده د افغانستان مدني قانون په ۲۱۵۲مه ماده کې ټکي په ټکي راغلې ده او هیڅ کوم توپیر په کې نه لیدل کېږي.

پردې سربېره د کویټ د شخصي احوالو قانون هم ورته دریځ لري او وايي: «أ -اذا منع الورثة او احدهم الموصى له من الانتفاع بالعين كل المدة او بعضها ، ضمن له المعترض بدل المنفعة الا اذا اتفق الموصى له وكل الورثة على تعويضه بالانتفاع مدة اخرى. ب -اذا كان المنع من الانتفاع من جهة الموصي ، او لعذر حال بين الموصى له والانتفاع ، وجبت له مدة اخرى من وقت زوال المانع.» (۷: ۲۶۱مه ماده)

ژباړه: الف- که کوم وارث د عین له ګټې څخه ټوله موده یا یو څه وخت له‌پاره وصیت‌کړی شوی منع کړ، د ګټې‌اخیستلو د بدل ضمانت به ورکوي، خو که چېرته وصیت‌کړی‌شوي او ټولې ورثې هوکړه وکړه، نو بل وخت دې ګټه‌اخیستنه په بدل کې ورکړي.

ب- که چېرته د ګټېاخيستنې دا ډول مانع د وصيت‌کوونکي له خوا يا دا چې د وصيت‌کړی‌شوي او ګټېاخيستنې ترمنځ د کوم عذر پېښېدو له کبله و، د مانع لرې کېدو وروسته وخت کې بيا د پاتې مودې ګټه‌اخيستل لازمېږي.

## د ګټه‌اخيستلو د وصيت موده

که څه هم د ګټه‌اخيستلو وصيت ناقص يا نابشپړ وصيت دی، خو بيا هم ځيني وختونه امکان لري چې موده يې مشخصه نه شي. د مودې له اړخه دا ډول وصيت، په دوو برخو وېشل شوی دی. ۱- د لنډمهاله ګټه‌اخيستلو وصيت ؛ ۲- د دايمي ګټه‌اخيستلو وصيت.

**۱- د لنډمهاله ګټه‌اخيستلو وصيت:** که چېرته د ګټه‌اخيستلو وصيت له‌پاره موده ټاکل شوې وه، د بېلګې په توګه پنځه يا لس کاله، ګټه‌اخيستونکی يوازې د همدې مودې له‌پاره له عين څخه ګټه اخيستلی شي. برابره خبره ده که پيل او پای يې معلوم وي يا نا معلوم.

**۲- د دايمي ګټه‌اخيستلو وصيت:** د ګټه‌اخيستلو وصيت، په لاندې حالاتو کې دايمي ګرځي او ترڅو چې عين ختم شوی يا هلاک شوی نه وي، ګټه‌اخيستونکی ترې ګټه اخيستی شي.

الف- وصيت د نامعلوم شمېر قوم له‌پاره وي: وصيت امکان لري چې د ډېر شمېر کسانو لکه يوې ډلې يا قوم له‌پاره هم وشي. په دې صورت کې د ګټه‌اخيستلو وصيت تر هغو چې عين له‌مينځه تللی نه وي، په خپل حال پاتې وي او محدوده موده نه لري.

ب- وصيت د نيکو کارونو له ډلې څخه د يوه نيک کار له‌پاره وي: که چېرته د ګټه‌اخيستو وصيت د ګټه‌اخيستلو، د بېلګې په توګه د پول، ويالې، سړک، جومات،... له‌پاره وي، دا ډول وصيت هم مادام‌العمر او دايمي وي او پای نه لري.

ج- وصيت په مطلق ډول و: که د ګټه‌اخيستلو په وصيت کې موده قيد نشي، يوازې ګټه‌اخيستل وويل شي، په دې صورت کې وصيت دايمي ګرځي او محدودې نېټې له‌پاره نه وي. البته بايد په ياد ولرو چې مطلق وصيت د ګټه‌اخيستونکي يا وصيت‌کړی شوي په مرګ پای ته رسېږي.

د مودې په تړاو د مصر د وصيت قانون وايي: «إذا كانت الوصية بالمنفعة لمعين مدة معلومة المبدأ والنهاية استحق الموصى له المنفعة في هذه المدة فإذا انقضت المدة قبل وفاة الموصي اعتبرت الوصية كأن لم تكن وإذا انقضى بعضها استحق الموصى له المنفعة في باقيها. وإذا كانت المدة معينة القدر غير معلومة المبدأ بدأت من وقت وفاة الوصي.» (۸: ۵۰مه ماده)

ژباړه: که چېرته د ګټېاخيستنې وصيت د داسې مودې له‌پاره وي چې پيل او پای يې معلوم وي، وصيت‌کړی‌شوی په دې موده کې د ګټېاخيستنې مستحق دی. که چېرته نوموړې موده د وصيت‌کوونکي له مړينې مخکې پوره شوه، نو داسې انګېرل کېږي چې وصيت هيڅ نه و شوی او که چېرته د وصيت‌کوونکي له مړينې وروسته

پوره شوه، وصیت‌کړی شوی د پاتې مودې د ګټې‌اخیستنې مستحق دی. که چېرته د ټاکلې مودې پیل معلوم نه و، د پیل ټکی د وصیت‌کوونکي د مړینې نېټه ده.

د افغانستان مدني قانون هم پورته متن ټکی په ټکی راخیستی او وایي: «(۱) که په ګټې اخیستلو وصیت د یوه ټاکلي شخص د پاره د یوې معلومې مودې د پاره چې پیل او پای یې معلوم وي، شوی وي. وصیت کړه شوی په دې مودې کښې د ګټې اخیستلو مستحق کیږي. که د وصیت کوونکي د مړینې تر مخه ذکر شوې موده تېره شوه نو وصیت داسې فرض کیږي. چې د سره نه وو شوي. که د وصیت کوونکي د مړینې ترمخه ځینې موده تېره شوې وه نو وصیت کړی شوی په پاتې مودې کښې د ګټې اخیستلو مستحق کیږي. (۲) که د مودې اندازه ټاکل شوې وه خو پیل یې معلوم نه وو نو د وصیت کوونکي د مړینې د نېټې څخه پیل کیږي.» (۱: ۲۱۵۱مه ماده)

د کویټ د شخصي احوالو قانون په دې اړه وایي:« أ -اذا كانت الوصية بالمنفعة لمعين مدة محددة المبادأه والنهاية ، استحق الموصى له منفعة في هذه المدة.

ب -فاذا انقضت المدة قبل وفاة الموصي بطلت الوصية ، واذا انقضى بعضها استحق الموصى له المنفعة في باقيها.

ج -واذا كانت المدة معينة القدر غير محددة المبدأ ، بدأت من وقت وفاة الموصى.» (۷: ۲۶۰مه ماده)

ژباړه: الف- که چېرته د ګټه‌اخیستلو وصیت د داسې ټاکلې مودې له‌پاره و چې پیل او پای یې معلوم و، وصیت‌کړی‌شوی په دغه موده کې د ګټه‌اخیستلو مستحق دی. ب- که چېرته ټاکلې موده د وصیت‌کوونکي له مړینې وړاندې پوره شوه، وصیت باطلېږي او که وروسته پوره شوه، وصیت‌کړی شوی د پاتې مودې د ګټې‌اخیستنې مستحق دی. ج- که چېرته ټاکل شوې موده معینه او معلومه وه خو پیل یې څرګند نه و، د وفات له وخت څخه پیلېږي.

د مصر د وصیت قانون مطابق، وصیت‌کړی شوی کس په لاندې حالت کې د دایمي ګټې‌اخیستنې مستحق ګرځي: «إذا كانت الوصية بالمنفعة لعين مؤبدة أو لمدة حياته أو مطلقة استحق الموصى له المنفعة مدة حياته بشرط أن ينشأ استحقاقه للمنفعة في مدى ثلاث وثلاثين سنة من وفاة الموصي.» (۸: ۶۱مه ماده)

ژباړه: که چېرته له عین څخه د ګټې‌اخیستنې وصیت دایمي یا د وصیت‌کړی‌شوي په ژوندانه پورې یا په مطلق ډول و، وصیت‌کړی شوی په ټول ژوند د ګټه‌اخیستو مستحق دی، خو په دې شرط چې د وصیت‌کوونکي له مرګ وروسته د دري دېرش کلونو په اوږدو کې د وصیت‌کړی شوي استحقاق ثابت شي.

یعنې که له دري‌دېرش کلونو وروسته په مطلق، دایمي یا د ژوند تر پایه وصیت کې، د وصیت‌کړی شوي استحقاق ثابت شي، که څه هم وصیت‌کړی شوی ژوندی وي، د ګټې‌اخیستنې حق یې له منځه ځي. دافغانستان مدني قانون په خپله ۲۱۶۲مه ماده کې دغه موضوع ټکي په ټکي را اخیستي ده.

**د ګټه‌اخیستلو طریقه:** د افغانستان مدني قانون د ګټه‌اخیستلو د وصیت له‌پاره کومه ځانګړې طریقه نه ده ذکر کړې. یوازې دومره یې ویلي چې د بېلابېلو طریقو د شتون پر مهال ګټه‌اخیستونکی خوښمن دی. د افغانستان مدني قانون

په دې اړه وايي: «هغه عين چې په ګټه‌اخيستلو يې وصيت شوي که د هغې طريقې څخه په غير چې پرې وصيت شوی په بلې طريقې د ګټه‌اخيستلو امکان ولري، نو وصيت کړی شوی کولی شي چې په هرې طريقې يې خوښه وي ورڅخه ګټه واخلي، خو په دې شرط هغه عين ته چې په ګټه‌اخيستلو يې وصيت شوی، ضرر ونه رسوي.» (۱: ۲۱۵۵مه ماده)

د مدني قانون پورته ماده د مصر د وصيت قانون له ۵۴مې مادې سره کټ مټ ورته ده او هيڅ کوم توپير په کې نه ليدل کېږي. «إذا كانت العين الموصى بمنفعتها تحتمل الانتفاع أو الاستغلال على وجه غير الذي أوصي به جاز للموصى له أن ينتفع بها أو يستغلها على الوجه الذي يراه بشرط عدم الإضرار بالعين الموصى بمنفعتها. (۸: ۵۴مه ماده)

ژباړه: که چېرته هغه عين چې د ګټه‌اخيستو وصيت يې شوی، د وصيت کړی شوې طريقې پرته په بله طريقه کارول کېدای يا استفاده کېدای شوای، وصيت‌کړی شوی کولی شي له وصيت شوې طريقې پرته په بله طريقه يې وکاروي يا ترې استفاده وکړي، خو په دې شرط چې نوموړي عين ته ضرر ونه رسوي.

کټ مټ دريځ د کويټ د شخصي احوالو قانون هم دی. دغه قانون په دې اړه وايي: «اذا كانت العين الموصى بمنفعتها تحتمل الانتفاع او الاستغلال على وجه غير الذي اوصى به ، جاز للموصى له ان ينتفع بها، او ستغلها على الوجه الذي يرا ، بشرط عدم الاضرار بالعين الموصى بمنفعتها«.(۷: ۲۶۴مه ماده)

ژباړه: که چېرته د ګټې‌اخيستنې څيز له وصيت‌شوې طريقې پرته په بله طريقه کارول يا استفاده کېدای شوای، وصيت‌کړی شوی کولی شي له وصيت‌شوې طريقې پرته له نوموړي عين څخه ګټه واخلي يا يې وکاروي، خو په دې شرط چې د عين ګټه‌اخيستلو ته ضرر و نه رسوي.

په پورته ماده کې وينو چې د ګټه‌اخيستلو له‌پاره دوه حالته اټکل شوي دي. لومړی هغه چې وصيت‌کوونکی په خپل وصيت کې ذکر کړي چې له عين څخه به په کوم ډول ګټه اخلې. د بېلګې په توګه کور بايد يوازې خپله استعمال کړي که يې په اجاره او کرايه هم ورکولی شي يا دا چې د باغ له ميوو څخه ګټه واخلي او که يې له خشاکو هم ګټه اخيستلی شي. که د بڼ له مېوو د ګټنې وصيت شوی و، ګټه‌اخيستونکی د وصيت‌کوونکي د مړينې پر مهال موجوده مېوې، يا تر هغه وروسته له رسېدونکو مېوو څخه ګټه اخيستلی شي. دا هغه صورت دی چې په وصيت کې د ګټې‌اخيستنې ډول او طريقه ذکر شي. په دې صورت کې ګټه‌اخيستونکی يوازې مکلف دی چې د ذکر شوې طريقې سره سمه ګټنه ترې وکړي.

په دوهم صورت کې، که چېرته وصيت‌کوونکی په خپل وصيت کې د ګټه‌اخيستلو ډول ذکر نه کړي، ګټه‌اخيستونکی کولی شي له عين څخه هر ډول ګټه واخلي، خو په دې شرط چې عين يا څيز ته کوم تاوان ونه رسوي.

پردې سربېره په ګټه‌اخيستلو وصيت کې له غلې يا مېوې ګټه‌اخيستل هم شاملېږي. که چېرته وصيت‌کوونکی د مېوې يا غلې وصيت وکړي، نو د وصيت‌کوونکي د مړينې پرمهال يا د هغه تر مړينې وروسته پېښېدونکې غله يا مېوه د وصيت‌کړی شوي حق دی. په دې تړاو د افغانستان مدني قانون وايي: «که وصيت په غله يا ثمر شوی وو نو وصيت کړی

شوی د هغې غلې او ثمر مستحق کيږي چې د وصيت کوونکي د مړينې په وخت کښې موجود وو او يا په راتلونکي وخت کښې موجوديږي، مګر دا چې ددې په غير بل دليل اقامه شې.» (۱: ۲۱۵۶مه ماده) د مصر وصيت قانون هم ورته دريځ لري او کوم ځانګړې توپير نه لري. نوموړی قانون وايي:«إذا كانت الوصية بالغلة أو الثمرة فللموصى له الغلة أو الثمرة القائمة وقت موت الموصي وما يستجد منها مستقبلا ما لم تدل قرينة على خلاف ذلك.» (۸: ۵۵مه ماده)

ژباړه: که چېرته وصيت په غله يا مېوه شوی وي، نو وصيتکړی شوی له هغې غلې او ثمر څخه ګټه اخيستی شي چې د وصيتکوونکي د مړينې پر مهال موجود وي يا په راتلونکي کې رسيږي، خو په دې شرط چې ددې خلاف کومه قرينه پيدا نه شي.

د ګټهاخيستلو د وصيت په تړاو بله مسئله د عين د ملکيت انتقال دی. څرګنده خبره ده چې د ګټهاخيستلو د وصيت ناقص يا نابشپړ ملکيت وصيت دی؛ خامخا به د عين ملکيت بل چا ته وصيت کېږي. په دې صورت کې د ماليو او اړينو مصارفو يا لګښتونو مسئله راپيدا کېږي. د افغانستان مدني قانون په دې تړاو، چې که عين يو کس او ګټهاخيستل يې دوهم کس ته وصيت کړی شوي وي؛ دګټهاخيستلو او ماليو اړوند لګښتونه د ګټهاخيستونکي په غاړه اينبي دي او وايي: «که د عين څخه ګټه اخستل يوه ټاکلي شخص ته، او د بل شخص د پاره پخپله د عين وصيت شوی وي، نو د ماليو تکليفونه او هغه څه چې د عين څخه د ګټهاخيستلو دپاره لازم دي د هغه چا په غاړه دي چې ورته په ګټهاخيستلو وصيت کړی شوی وي.» (۱: ۲۱۵۹مه ماده)

د مصر د وصيت قانون هم د ماليو او نور اړين لګښتونه د ګټهاخيستونکي وصيتکړیشوي کس په ذمه ږدي او وايي: «إذا كانت الوصية لمعين بالمنفعة ولآخر بالرقبة فإن ما يفرض على العين من الضرائب وما يلزم لاستيفاء منفعتها يكون على الموصى له بالمنفعة.» (۸: ۵۸مه ماده)

ژباړه: که چېرته يوه کس ته د ګټهاخيستلو او بل کس ته د عين د ملکيت وصيت شوی و، نو د مالياتو او هغه څه چې عين لهپاره اړين وي، لګښتونه يې د ګټېاخيستنې وصيتکړیشوي کس په ذمه دي.

د پورته دواړو مادو پرتلنه دا راښيي چې د ګټهاخيستو پرمهال بايد ټول لګښتونه د ګټهاخيستونکي په غاړه وي. دا د هغه څه خلاف دي چې يو کرايهاوسېدونکی يا اجارهلرونکی د کور يا عين اړوند لګښتونه له څښتن څخه وغواړي.

## د ګټهاخيستلو د وصيت سقوط

لکه څرنګه چې وړاندې ورته اشاره وشوه، د ګټهاخيستلو وصيت په زياترو مواردو کې لنډمهاله وصيت دی او په ځانګړو حالاتو کې سقوط کوي او له منځه ځي. که څه هم په ځينو حالاتو کې نوموړی وصيت دايمي بڼه لري، ولې په ځينو نورو حالاتو کې بيا سقوط کوي چې د سقوط حالات يې په لاندې ډول دي.

**۱- د ګټهاخيستونکي د وفات پر مهال؛** برابره خبره ده که مړينه له عين څخه د ټولې ګټنې يا د يوه اندازه ګټنې څخه وروسته يا مخکې پېښه شي. دا حق په ميراث نه وړل کېږي، يوازې کوم چا ته چې وصيت شوی وي، هماغه ترې

ګټه اخیستی شي. د افغانستان مدني قانون په دې اړه وایي: «په ګټې‌اخیستلو وصیت هغه وخت ساقطېږي چې وصیت کړی شوی د ټولې یا ځینې ګټې د اخیستلو څخه ترمخه مړ شي،...» (۱: ۲۱۶۰مه ماده) پردې سربېره د مصر د وصیت قانون په دې تړاو وایي: «تسقط الوصية بالمنفعة بوفاة الموصى له قبل استيفاء المنفعة الموصى بها كلها أو بعضها...» (۸: ۵۹مه ماده)

ژباړه: د ګټه‌اخیستلو وصیت، د ټولې یا یوې برخې ګټې‌اخیستنې څخه وړاندې، د وصیت‌کړی‌شوي کس په مړینه پای مومي.

۲- د ګټه‌اخیستونکي له‌لوري د عین (تر ګټې اخیستنې لاندې عین) د رانیولو پرمهال؛ که ګټه‌اخیستونکی تر ګټې لاندې څیز وپېري، په دې صورت کې یې عین خپل ګرځي او د ګټې‌اخیستنې وصیت سقوط کوي.

د افغانستان مدني قانون په دې تړاو وایي: «...یا وصیت کړی شوی هغه عین واخلي چې د هغې څخه په ګټې اخیستلو ورته وصیت شوی وي...» (۱: ۲۱۶۰مه ماده)

دغه راز، د مصر د وصیت قانون په دې اړه وایي: «...وبشراء الموصى له العين التي أوصي له بمنفعتها...» (۸: ۵۹مه ماده)

ژباړه: او د وصیت‌کړی شوي له لوري د هغه څیز په اخیستو سره چې د ګټې‌اخیستنې وصیت یې ورته شوی وي.

یعنې که کوم څیز یوه کس ته د ګټه‌اخیستو له‌پاره وصیت کړی شوی وي، د نوموړي کس له‌لوري د یاد څیز په پېرلو سره د ګټې‌اخیستنې وصیت سقوط کوي.

۳- د ګټه‌اخیستونکي له‌لوري د عین په استحقاق وړلو پرمهال: امکان لري چې ګټه‌اخیستونکی تر ګټې‌اخیستنې لاندې عین په استحقاق یوسي. په استحقاق وړلو پر مهال د افغانستان مدني قانون د ګټې‌اخیستنې وصیت ساقطوي او وایي: «...او یا دا چې عین په استحقاق ویوړ شي.» (۱: ۲۱۶۰مه ماده)

همدا دریځ د مصري قانون هم دی. دغه قانون وایي: «...وباستحقاق العين...» (۸: ۵۹مه ماده) ژباړه: او د عین په استحقاق سره (وصیت سقوط کوي).

۴- د ګټه‌اخیستونکي له‌لوري د عوض یا پرته له عوضه د عین له ګټو څخه د تېرېدو پرمهال: که چېرته ګټه‌اخیستونکی د کوم څه په بدل کې یا له عوض پرته، له خپلو ګټو څخه تېر شي، په دې صورت کې د ګټې‌اخیستنې وصیت سقوط کوي. د افغانستان مدني قانون په دې اړه وایي: «...یا په هغې کښې د خپل حق څخه د عوض په بدل کښې یا بې له عوضه د وصیت کوونکي وارثانو ته تېر شي...» (۱: ۲۱۶۰مه ماده)

ورته دریځ د مصر د وصیت قانون هم لري او د ګټه‌اخیستونکي له لوري د وصیت‌کوونکي ورثې ته له خپل حق څخه د تېرېدو پرمهال نوموړی وصیت ساقطوي. مصری قانون وایي: «...وبإسقاط حقه فيها لورثة الموصي بعوض أو

بغیر عوض...» (۸: ۵۹مه ماده) ژباړه: او وصیت‌کوونکي ورثې ته د عوض په مقابل کې یا له عوض پرته له خپل حق څخه د تېرېدو په حالت کې.

باید په یاد ولرو چې د مدني قانون پر بنسټ، وارثان کولی شي چې په عین کې خپله برخه، پرته له دې چې له ګټه‌اخیستونکي څخه اجازه واخلي؛ وپلوري. (۱: ۲۱۶۱مه ماده)

د کویټ د شخصي احوالو قانون بیا د ګټه‌اخیستلو وصیت سقوط په لاندې حالاتو کې اټکل کړی دی: دغه قانون وایي:«تسقط الوصیة بالمنفعة في الحالات الآتیة:

- بوفاة الموصی له قبل استیفاء المنفعة الموصی بها کلها او بعضها؛
- بشراء الموصی له العین التي اوصی له بمنفعتها؛
- بتنازله عن حقه فیها لورثة الموصي بعضو او بغیر عوض؛
- باستحقاق العین الموصی بمنفعتها.» (۷: ۲۶۹مه ماده)

ژباړه: د ګټې‌اخیستنې وصیت په لاندې حالاتو کې سقوط کوي:

- د موصی‌بها د ټولې یا ځینې ګټې‌اخیستنې د پوره کېدو څخه وړاندې د وصیت‌کړی‌شوي په وفات سره؛
- وصیت‌کړی‌شوي کس له‌لوري د ګټې‌اخیستنې د څیز پېرل؛
- د وصیت‌کوونکي وارث ته د عوض په بدل کې یا له عوض پرته له خپل حق څخه د تېرېدو په صورت کې؛
- د ګټې‌اخیستنې څیز په استحقاق سره.

پورته ماده د افغانستان مدني قانون او دغه راز د مصر د وصیت قانون له موادو سره ورته ده او هیڅ کوم توپیر په کې نه تر سترګو کېږي.

## پایله

د وصیت پر بنسټ له عین څخه ګټه اخیستل د وصیت له ډولونو څخه یو مهم ډول دی. یو کس کولی شي چې د بل چا له مال څخه د هغه تر مرګ وروسته، ګټه واخلي، پرته له دې چې ملکیت یې ورته انتقال شي. د افغانستان مدني قانون، لکه څرنګه چې په پورته مادو کې لیدل شوي، د مصر د وصیت له قانون څخه په اعظمي ډول استفاده کړې او ټول احوال یې را انتقال کړي دي. آن تر دې چې د مصر د وصیت قانون ژباړل شوی او د افغانستان مدني قانون په وصیت برخه کې یې ځای پر ځای کړی دی. که څه هم پورته لیدل کېږي چې د افغانستان مدني قانون د وصیت برخې اړوند مواد د مصر د وصیت قانون پر موادو سربېره، د کویټ د شخصي احوالو قانون له موادو سره هم ورته او کټ مټ دي؛ خو د کویټ شخصي احوالو قانون، چې دلته ترې استفاده شوې ده، په ۱۹۸۰ز. کال کې نشر شوی دی، نو ویلی شو چې افغانستان له مصري قانون څخه ګټه اخیستې ده.

پردې سربېره چې د مدني قانون د وصيت برخه، د مصر د وصيت قانون ژباړه ده، ولې په هر حال داسې قانون د سيمې کوم هېواد نه لري. د ايران مدني قانون د وصيت په تړاو ډېر لږ څه لري او څومره چې تمه کېږي، جامع او هر اړخيز نه دي. نو ويلی شو چې د افغانستان مدني قانون، له منځپانگيزو او ادبي ستونزو سره سره، په سيمه کې يو بې‌ساری، هراړخيز او جامع قانون دی. په عمومي ډول ويلی شو چې د افغانستان مدني قانون د گټې‌اخيستنې د وصيت په تړاو، جامع او هراړخيز احکام لري او په ښه ډول يې سره يوځای کړي دي. دا احکام په مجلةالاحکام کې هم نه ترسترگو کېږي او يوازې د ځينو عربي هېوادونو په قوانينو کې يې رينښې شته.

په هر حال، د وصيت پر بنسټ وصيت کوونکی د خپل مال يوه حصه، وارث يا غير وارث ته، د نا/ټاکلې مودې له‌پاره ورکوي ترڅو ورڅخه گټه واخلي. که دا ډول وصيت هر څومره اوږد شي، خو بيا هم له دريڅېرش کلونو څخه زياتېدای نه شي.

## وړانديزونه

۱: د مدني قانون د وصيت برخه په ځينو برخو کې نيمگړتياوې لري. چې بايد دا نيمگړتياوې مرفوع کړل شي. دغه نيمگړتياوې د موضوع په متن کې روښانه شوي دي.

۲: د افغانستان مدني قانون د گټې‌اخيستنې د وصيت برخه، له ډېرو گرامري او ليکنيزو ستونزو ډکه ده. عدليې وزارت دې په دې برخه کې اصلاح کولو ته اقدام وکړي.

## مأخذونه


۱: افغانستان. مدني قانون. رسمي جريده، ۳۵۳ گڼه، عدليې وزارت: کابل، ۱۳۵۵هـ. کال.

۲: انديال. «وصيت او ميراث». پته: https://andyal.com/%d9%88%d8%b5%db%8c%d8%aa-/%d8%a7%d9%88-%d9%85%db%8c%d8%b1%d8%a7%d8%ab [دلاسرسي نېټه: ۰۴/۰۸/۱۳۹۹]

۳: انلاين اسلامي لارښود. «د وصيت احکام او شرايط». پته: https://www.dawat610.com/archives/10312 [د لاسرسي نېټه: ۰۳/۰۸/۱۳۹۹]

۴: ايران. قانون مدني. ---، وزارت عدليه: تهران. ۱۳۰۷هـ.

۵: بنياد وکلا، «وصيت تمليکي چيست؟» پته: https://www.bonyadvokala.com/blog/what-is-the-right-will [د لاسرسي نېټه: ۰۳/۰۸/۱۳۹۹]

۶: ستانکزی، نصرالله او نور. د حقوقي اصطلاحاتو قاموس (پښتو)، لومړی چاپ، د افغانستان عدلي او قضايي چارو پروژه: کابل، ۱۳۸۷.

۷: کويت. القانون احوال الشخصية.---، الموسوعة القانونية: کويت، سنة ۱۹۸۰م.

۸: مصر.قانون الوصية المصري. رقم ۷۱، الاستشارات القانونية: قاهره، سنة ۱۹۴۶.